## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**12جوزا_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

بیش از ۹۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود ---------------------------------------------------- 1
تخار کې پر ۱۰۰ راستنو شویو کسانو نغدي مرسته ووېشل شوه---------------------------------------------------- 1
رییس مهاجرین ولایت ننگرهار، از خط فرضی تورخم دیدن نمود---------------------------------------------------- 2
سویډن کې د بې اسناده کډوالو په اړه د نوي قانون مسوده او «مدني نافرماني---------------------------------------- 2
تېرو لسو ورځو کې تر ۱۳ زره زیات کډوال له پاکستانه ایستل شوي ---------------------------------------------- 4
یونان کې د کښتۍ ډوبېدنه: د برائت ورکړل شویو کډوالو له ډلې ۴ تنه یې خوشي شوي------------------------------ 6
بیش از ۲۰۰ هزار تن در سال ۲۰۲۳ شهروندی آلمان را کسب کردند ---------------------------------------------- 7
پولند در مرزهایش با بلاروس یک منطقه حایل امنیتی ایجاد می‌کند---------------------------------------------- 9

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## بیش از ۹۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۹۷۹ تن مهاجر افغان به تاریخ ۹ جوزا  از مرز سپین بولدک و خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۱۱۵ خانواده که شامل ۶۴۷ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**و به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۶۲ خانواده شامل ۳۳۲ تن از آن طریق برگشت پس از ثبت در آن آمریت  جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مطابق به طرز العمل از طرف امارت اسلامی  نیز کمک صورت گرفته است.**

## تخار کې پر ۱۰۰ راستنو شویو کسانو نغدي مرسته ووېشل شوه

د وزارت ویب سایت



**په تخار ولایت کې د غبرګولي اتمه  پر ۱۰۰ بې ځایه شویو او له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنو شویو کسانو ته نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**دغو کسانو وړاندې د مهاجرت نړیوال سازمان په همکارۍ په حرفوي برخو کې شپږ میاشتنې فني زده کړې ترلاسه کړې وې او هر یو کس سره د مهاجرت سازمان له لوري د ۱۱ زره افغانیو په ارزښت مرسته وشوه، چې د هغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ووېشل شوه.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## رییس مهاجرین ولایت ننگرهار، از خط فرضی تورخم دیدن نمود

ویب سایت وزارت



**حاجی بازمحمد عبدالرحمن رییس مهاجرین ولایت ننگرهار همراه با مولوی عبدالرحمن حبیب زی رییس مهاجرین ولایت کابل به تاریخ ۹ جوزا برای ارزیابی وضعیت مهاجرین از خط فرضی تورخم دیدن بعمل آوردند.**

**آنان از کارکرد و فعالیت های موسسات همکار در تورخم بازدید کرده در مورد برگشت کننده های تازه و ایجاد فرصت های شغلی و تسهیلات لازم برای آنها در کمپ عمری بحث نمودند.**

**رییس مهاجرین ننگرهار برای رسیده گی به مشکلات مهاجرین در تورخم در همکاری با نهاد های مدد رسان تاکید ورزید.**

## سویډن کي د بې اسناده کډوالو په اړه د نوي قانون مسوده او «مدني نافرماني

مهاجرنیوز




**د سویډن ایتلافي حکومت د نوي قانون په مسوده کې راغلي چې دولت کارکوونکي اړ دي د کډوالۍ اداري چارواکو او امنیتي ځواکونو ته د هغو بې اسناده کسانو په اړه خبر ورکړي چې دوی ورسره په اړیکه کې دي. دغه وړاندیز په سویډن کې د دولتي کارکوونکو او د بشري حقونو د سازمانونو سختې نیوکې راپارولې دي .**

**د سویډن د ایتلافي حکومت په مسوده کې راغلي دي چې دولتي کارکوونکي مکلفیت لري چې له بې اسناده کسانو سره د اړیکې نیولو په صورت کې د کډوالۍ ادارې او پولیسو ته خبر ورکړي. په ورته مهال د عامه خدماتو کارکوونکو دا مسوده غندلې او پر وړاندې یې د «مدني نافرمانۍ» اعلان کړی دی.**

**دغه ماده چې د مۍ له ۲۹مې راهیسې په پارلمان کې پرې بحث کېږي د سویډن د ایتلافي حکومت په تړون کې راغلې ده. د محافظه کار، مسیحي دموکرات، لیبرال او اس دي ګوندونو ترمنځ «تیدو تړون» د ۲۰۲۲ په اکتوبر کې لاسلیک شوی و. په دغه تړون کې راغلي وو چې ایتلافي حکومت باید د جرایمو او نامنظمې کډوالۍ پر وړاندې سخت سیاست غوره کړي.**

**دا هم ولولئ**
**سویډن غواړي د کاري ویزو د ورکولو لپاره د عایداتو کچه لوړه کړي**

**د سویډن ایتلافي حکومت د قبولۍ، د کورنۍ الحاق او د تابعیت د ترلاسه کولو شرایط سخت کړي چې له امله یې دغه هېواد کې د کډوالو شمېر کم شوی دی .اوسمهال سویډن په کال کې یوازې ۹۰۰ کډوال مني، حال دا چې په ۲۰۲۲ کې دغه سکاندناوی هېواد شاوخوا ۶۴۰۰ مهاجر منلي وو.**

د «تیدو» په تړون کې راغلي دي چې پناه غوښتونکي باید د خپلو دوسیو د ارزول کېدو په موده کې له سویډن څخه بهر «ترانزیټ مرکزونو» کې وساتل شي. د دغه تړون له مخې، سویډن کې دننه د عامه خدماتو کارکوونکي مسولیت لري چې له بې اسناده بهرنیانو سره د مخامخ کېدو په صورت کې پولیسو او د کډوالۍ چارواکو ته خبر ورکړي.

**دا هم ولولئ**

**<u>سویډن وایي کډوال اړ دي دی هېواد کې «په صادقانه توګه» ژوند وکړي</u>**

**جنجالي قانون**

دمګړی د سویډن په پارلمان کې پر دې جنجالي مسلې تاوده بحثونه روان دي. د بې اسناده کډوالو مدافع بنسټ پیکوم د مې په ۲۹مه پارلمان کې له دغه مسودې سره مخالف وښود او پر وړاندې یې خپل دلایل وړاندې کړل. تر دې دمخه د روغتیایي خدماتو ۴۰۰۰ کارکوونکو هم افتونبلادېټ ورځپاڼې ته د یو لیک په استولو سره دا وړاندیز رد کړی و.

د دې لیک لاسلیکوونکو د حکومت د دغه اقدام پر وړاندې د «مدني نافرمانۍ» اعلان کړی او ویلي وو چې د قانون د تصویب په صورت کې به هم د بې اسناده ناروغانو په اړه چا ته خبر نه ورکوي. په دغه لیک کې راغلي وو چې دغه وړاندیز «روغتیایي خدماتو د لاسرسي» له ټولشمولې قاعدې سره په ټکر کې دی او د ځینو ناروغیو د خپرېدو سبب ګرځېدلی شي.

همدارنګه د سویډن د ښوونکو د مسلکي اخلاق شورا، ټولنیزو خدماتو، د عامه کتابتونو او د ښاروالیو کارکوونکو هم له دغه وړاندیز سره مخالفت ښودلی دی. ټاکل شوې چې د سویډن پارلمان د ۲۰۲۴ د سپتمبر په ۳۰ د دې مسودې په اړه د بحثونو او څېړنو پایله اعلان کړي.

**دا هم ولولئ**

**<u>سویډن غواړي چې د رد شویو پناه غوښتونکو پر وړاندې تدابیر سخت کړي</u>**

## تېرو لسو ورځو کې تر ۱۳ زره زیات کډوال له پاکستانه ایستل شوي

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**د رسنيو د راپورونو له مخې، په تېرو لسو ورځو کې تر ۱۳ زره ډېر افغان کډوال له دغه هېواد څخه ایستل شوي چې په ډله کې يې زرګونه ماشومان هم دي. په ورته مهال سېف دي چېلډرن سازمان خبرداری ورکړی چې د ایستل شویو ماشومانو لویه برخه یې له شدیدې لوږې سره مخامخ دي.**

**عرب نیوز د راډیو پاکستان له قوله لیکلي په تېرو لسو ورځو کې له دغه هېواد څخه تر ۱۳ زيات افغان مهاجر ایستل شوي چې په ډله کې يې ۶ زره او ۴۷۸ نارینه، ۲ زره او ۹۸۷ ښځې او ۳ زره او ۷۴۱ ماشومان شامل دي.**

**دغه سایټ لیکلي دي چې له پاکستانه د افغان کډوالو د ایستلو له پیل راهیسې څه باندې ۶۰۰ زره افغانان خپل هېواد ته ستانه شوي دي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>په یوه ورځ نږدې ۹۰۰ افغان کډوال له پاکستان څخه ایستل شوي</u>**

**د لوږې کړکېچ**

**دا په داسې حال کې ده چې د سېف دي چېلډرن سازمان د تېرې سه شنبې په ورځ د یو راپور په خپرولو سره خبرداری ورکړی و چې په افغانستان کې <u>له هرو ۱۰ ماشومانو څخه ۳ دری تنه یې له شدیدی لوږی سره مخامخ دی</u> .په دغه راپور کې راغلي چې ښايي په راتلونکو میاشتو کې څه باندې ۱۲،۴ میلیونه افغانان، چې نیمايي برخه يې ماشومان دي، د خوړو د موندلو په برخه کې له جدي بحران سره مخامخ شي.**

**یاد سازمان زیاته کړې وه چې وزګاری او اقتصادي ستونزې، د افغانستان بېلابېلو ولایتونو کې <u>وروستی سېلابونه</u>، وچکالی او له پاکستانه د خلکو ډله ایز اخراج د اوسني حالت سبب ګرځېدلی دی.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

له دې وړاندې د ماشومانو د ساتنې نړیوالې ادارې هم خبرداری ورکړی و چې له پاکستانه څخه ستانه شوي شاوخوا ۲۵۰ زره ماشومان خوړو، سرپناه او زدکړو ته لاسرسی نه لري .یادې ادارې د اپریل په ۱۸مه د یو راپور په خپرولو سره لیکلي وو چې د ۲۰۲۳ له سپتمبر راهیسې تر ۵۲۰ زره زيات افغانان له پاکستانه ایستل شوي چې نیمایي یې ماشومان دي.

پاکستاني چارواکو د اپریل په ۱۵مه له دغه هېواد څخه د افغان کډوالو د ایستلو دویم پړاو پیل کړ. دا هغه افغانان دي چې د «اې سي سي» په نوم کارتونه لري. ویل کیږي چې د کډوالو د ایستلو درېیم پړاو کې به هغه کسان له پاکستان څخه وشړل شي چې د «پي او آر» یا د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د کارتونو څښتنان دي.

## یونان کې د کښتۍ ډوبېدنه: د برائت ورکړل شویو کډوالو له ډلې ۴ تنه یې خوشې شوي

مهاجرنیوز



د پیلوس په اوبو کې د کډوالو د کښتۍ د ډوبېدو په تړاو برائت ورکول شویو ۹ مصریان څخه ۴ تنه یې خوشې شوي دي. د یونان د کالاماتې محکمې تر پرېکړې وروسته دغه کسان اداري توقیف ځای ته استول شوي وو .

د پیلوس په اوبو کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو په تړاو د برائت ورکړل شویو ۹ مصریانو له ډلې څخه ۴ تنه یې خوشې شوي دي. د لېسبوس حقوقي مرکز پر خپله اېکس پاڼه د دې خبر په خپرولو سره لیکلي دي چې «چارواکو د محکمې له حکم وروسته د

**[یادو کسانو] د خوشي کولو پر ځای پرېکړه وکړه چې هغوی نور هم وځوروي او له دلیل پرته او په جبري توګه يې اداري توقیف ځای ته واستوي«.**

**د دغه مرکز مدافع وکیله ماریون بوشتال کډوال نیوز سره خبرو کې وایي: «د خوشي شویو څلورو کسانو د قضیو په اړه څه موده مخکې د استیناف غوښتنه شوې وه. د نورو لپاره غوښتنه لږ وروسته وړاندې شوه.» نوموړې زیاتوي چې د پاتو کسانو برخلیک به د جون په پیل کې معلوم شي او هغه هیله منه ده چې ځواب مثبت وي .**

**په استیناف لیک کې راغلي وو چې یاد مصریان د کښتۍ د ډوبېدنې پېښې څخه ژوندي پاتې شوي او زیان منونکي بلل کېږي. همدارنګه محکمې یونان ته د هغوی د ناقانونه داخلېدو تور رد کړی و او چارواکو يې د بندي کولو لپاره قانوني دلیل نه درلود .**

**دغه وکیله وایي چې خوشي شوي کسان پلازمېنې اتن ته تللي او د کډوالۍ چارواکو پرېکړې ته انتظار باسي.**

**د یونان د کالاماتا محکمې د می په ۲۱ هغه نهه مصري کډوال بې ګناه وپېژندل چې د ۲۰۲۳ په جون میاشت کې د پیلوس په ساحلي اوبو کې <u>د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې</u> په تړاو نیول شوي وو. پر دغو کسانو تور و چې «له یوې جرمي ډلې سره تړاو لري«، »د غفلت له امله د خلکو د مرګ سبب ګرځېدلي» او کډوال يې «په ناقانونه ډول یونان ته لېږدولي دي». محکمې یاد تورونه رد کړل او تورنو کسانو ته يې برائت ورکړ.**

**خو له دغې پرېکړې وروسته یاد مصریان لومړی د پولیسو قومندانۍ او وروسته بیا اداري توقیف ځای ته واستول شول. یوناني چارواکو ویلي دغه کسان يې ځکه توقیف خون ته استولي دي چې ښایي دوی له یونانه د تېښتې هڅه وکړي.**

**د لېسبوس حقوقي مرکز او مدافع وکیلانو د چارواکو دغه اقدام غندلی او ویلي يې وو چې د خوشي کولو لپاره يې د استیناف غوښتنه کړې ده. یاد مرکز چې د کډوالو حقوقي چارو ته رسېدنه کوي ویلي وو چمتو دی د منفي ځواب په صورت کې د اروپا د بشري حقونو محکمې ته مراجعه وکړي.**

**د ۲۰۲۳ په جون میاشت کې یوه کښتۍ چې له لیبیا څخه يې خپل سفر پیل کړی و د پیلوپونېز د پیلوس په اوبو کې ډوبه شوه چې له امله يې ۸۲ تنه ډوبه او سلګونه نور لادرکه شول. په دغه کښتۍ کې چې له لیبیا څخه يې خپل سفر پیل کړی و، نږدې ۷۵۰ کډوال سپاره ول.**

**دا هم ولولئ**
**<u>یونان کې د سلګونه کډوالو د کښتۍ په ډوبېدو کې څه پېښ شول؟</u>**

**له دې وړاندې د بخښنې نړیوالې ادارې او د بشري حقونو د څار سازمان په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو چې <u>د یادې قضیې په پلټنو کې څه پرمختګ نه دی شوی</u> .تر دغې انساني غمیزې یوه اونۍ وروسته د یونان سترې محکمې د پېښې د څرنګوالي د معلومولو په اړه د پلټنو امر کړی و. ځینو رسنیو د پېښې له کبله د یونان ساحلي ځواکونه ګرم بللي او زیاته يې کړې وه چې د کډوالو د ژغورنې عملیات يې له ځنډ سره پیل کړي دي.**

## بیش از ۲۰۰ هزار تن در سال ۲۰۲۳ شهروندی آلمان را کسب کردند

مهاجرنیوز




**شمار کسانی که در سال گذشته تابعیت آلمان را دریافت کرده اند، بیش از هر زمانی دیگری از سال ۲۰۰۰ به این سو بوده است. بیش از شش هزار شهروند افغانستان نیز در سال گذشته تابعیت آلمانی گرفته اند .**

**اداره آمار فدرال آلمان روز سه شنبه اعلام کرد که در سال ۲۰۲۳ میلادی حدود ۲۰۰ هزار و ۱۰۰ خارجی شهروندی آلمان را کسب کردند. این بیشترین تعداد سالانه کسب شهروندی آلمان از زمان شروع ثبت این آمارها در سال ۲۰۰۰ میلادی به این سو است. این آمار در مقایسه با سال ۲۰۲۲ حدود ۳۱ هزار بیشتر است که افزایش تقریباً یک پنجم را نشان می‌دهد.**

**این آمار نشان می‌دهد که کسب شهروندی آلمان توسط خارجی‌ها در سال‌های اخیر پیوسته افزایش یافته است. کسب تابعیت آلمان در سال ۲۰۲۲ نیز در مقایسه با سال قبل از آن حدود ۳۷ هزار افزایش یافته بود.**

**در مجموع شهروندان ۱۵۷ کشور در سال گذشته میلادی شهروندی آلمان را کسب کرده اند.**

**بر اساس این معلومات، شهروندان سوریه در صدر دریافت‌کنندگان تابعیت آلمانی قرار دارند و در سال گذشته ۷۵ هزار و ۵۰۰ سوریایی شهروندی آلمان را گرفته اند که ۳۷ درصد مجموع را تشکیل می‌دهد.**

**به دنبال آن، شهروندان ترکیه، عراق، رومانیا و افغانستان بیشترین دریافت‌کنندگان شهروندی آلمان بوده اند.**

**تعداد افغان‌هایی که در سال ۲۰۲۳ شهروندی آلمان را گرفته اند ۶۵۲۰ نفر بوده اند.**

**بر بنیاد معلومات اداره آمار، کسانی که جدیداً تابعیت آلمان را گرفته اند به طور میانگین ۲۹/۳ ساله بوده و به این ترتیب به وضوح جوانتر از کل جمعیت آلمان هستند که میانگین سنی آن‌ها ۴۴/۶ ساله است. سهم زنان در کسب شهروندی ۴۵ درصد نسبت بوده که نسبت به کل جمعیت (۵۰ درصد) کمتر بوده است.**

**سوریایی‌هایی که در سال ۲۰۲۳ پاسپورت آلمانی دریافت کرده اند به طور میانگین حدود ۲۴٫۵ ساله بوده اند و تقریباً دو سوم (۶۴ درصد) آن‌ها مرد هستند. آنها پیش از کسب شهروندی آلمان به طور متوسط شش سال و هشت ماه در آلمان بوده اند.**

**در اعلامیه اداره آمار آمده است: «آمار بلند کسب شهروندی سوریایی‌ها در آلمان به مهاجرت پناهجویان سوریایی در سال‌های ۲۰۱۴ تا ۲۰۱۶ مرتبط بوده است .آنها در حال حاضر مهارت‌های زبانی و حداقل مدت اقامت لازم برای اخذ تابعیت را دارند«.**

## پولند در مرزهایش با بلاروس یک منطقه حایل امنیتی ایجاد می‌کند

مهاجرنیوز




**حکومت پولند اعلام کرد که از هفته آینده در مرزهایش با بلاروس یک منطقه حایل امنیتی ۲۰۰ متری را دوباره فعال خواهد کرد. این تصمیم بعد از آن اتخاذ شده که یک نگهبان مرزی پولندی در یکی از نقاط مرزی هردو کشور، مورد حمله قرار گرفت.**

**به گزارش سایت یوراکتیو، حمله در نزدیکی روستای دوبیکا سرکیبونا صورت گرفت و در جریان آن، مهاجم با یک نیزه مجهز باچاقو یک نگهبان مرزی را از ورای میله‌های آهنی حصار مرزی، هدف قرار داد. در نتیجه این حمله، نگهبان در قسمت سینه زخمی شد و به شفاخانه انتقال یافت. بنابر گزارش، فرد مهاجم که در خاک بلاروس قرار داشت دستگیر نشده است.**

**دونالد تسک، نخست وزیر پولند، روز چهارشنبه ۲۹ می هنگام بازدید از محل حمله گفت که حکومت تصمیم گرفته از هفته آینده منطقه حایل امنیتی در مرز با بلاروس را دوباره فعال کند**

**او در یک نشست خبری به خبرنگاران گفت: «به ما توصیه شده تا باردیگر یک منطقه حایل مرزی ۲۰۰ متری را با سرعت در نقاطی از این منطقه مرزی ایجاد کنیم. ما آماده هستیم این تصمیم را از آغاز هفته آینده اجرا کنیم«.**

**تصمیم ایجاد منطقه حایل امنیتی در مرز با بلاروس تازه نیست و در نومبر ۲۰۲۱، حکومت ملی گرای تحت رهبری حزب قانون و عدالت (PiS) برای مقابله با موج مهاجران، اقدام مشابهی انجام داده بود. به اساس تصمیم مقامات، مردم منطقه، روزنامه نگاران و سازمان‌های غیردولتی حق ورود به این منطقه حایل را نداشتند.**

**در همین زمینه**

**<u>پولند: مهاجران در جریان عبور از مرز بلاروس سیستم نظارتی را از بین می‌برند</u>**




**منطقه مرزی پودالسکی، مهمترین گذرگاه مهاجران از بلاروس به پولند به شمار می‌رود. عکس: گوگل مپز**

**در آن زمان، دونالد تسک، رهبر ائتلاف مدنی (KO) و نهادهای مدافع حقوق بشر، از تصمیم حکومت انتقاد کرده و آن را در تناقض با فعالیت‌های بشردوستانه‌ای خوانده بودند که هدف آن کمک به مهاجران از جمله زنان و کودکان بود.**

**افزایش مهاجران و موارد خشونت**

در حالی که موج مهاجرت از روسیه یا بلاروس به مقصد اتحادیه اروپا همچنان ادامه دارد، مقامات پولندی می‌گویند که در هفته‌های اخیر رقم تلاش‌ها برای عبور غیرقانونی از مرز بلاروس به پولند و موارد درگیری میان مهاجران و نگهبانان مرزی، افزایش یافته است.

در همین زمینه

مهاجران در مرز بلاروس و پولند: «برای رسیدن به اینجا نمی‌توان زندگی را تضمین کرد»

یک ویدیوی منتشر شده توسط یک مهاجر در شبکه‌های اجتماعی، ماموران امنیتی پولندی را نشان می‌دهد که یک مهاجر بی‌دفاع را که روی زمین افتاده، به شدت لت وکوب می‌کنند.

یک امدادگر حاضر در منطقه به مهاجر نیوز گفت که ویدیو در شب ۲۷ می تهیه شده و محل حادثه، در نزدیکی روستای دوبیکا سرکییونا قرار دارد.

در واکنش به این رویدادها، ولادیسلاو کوزینیاک کامیز اعلام کرد که حکومت آماده است شمار سربازان مستقر در مرز را افزایش دهد .همین اکنون نزدیک به ۵۵۰۰ سرباز در مناطق مرزی حضور دارند.

اقدامات امنیتی و نگرانی در مورد حقوق مهاجران

سازمان‌های غیردولتی و مخالفان حکومت پولند، اقدامات امنیتی یاد شده را مورد انتقاد قرار داده و از این موضوع که دونالد تسک، نخست وزیر حامی اروپا، روش‌های حکومت پیشین را تعقیب می‌کند، اظهار ناامیدی کرده‌اند.

دونالد تسک، حدود سه هفته پیش نیز هنگام دیدار با گروهی از سربازان و نگهبانان مرزی گفت که «برای حفظ امنیت مرزها، هیچ محدودیتی وجود نخواهد داشت.» در چنین شرایطی، پیش بینی این امر دشوار است که آیا حقوق مهاجران در این مناطق مرزی رعایت خواهد شد یانه.

در اواسط می، عزالدین، یک پناهجوی سودانی که در وارسا به سر می‌برد، به مهاجر نیوز گفته بود در جریان هشت بار تلاش برای ورود از بلاروس به خاک پولند، نگهبانان مرزی پولند، هر بار او را به بلاروس برگرداندند. او گفت در جریان این عقب زدن‌ها، «نگهبانان مرزی مهاجران را می‌زنند؛ تیلفون‌های شان را می‌شکنند و با گاز به صورت آن‌ها حمله می‌کنند «.

در تازه ترین اقدام امنیتی، مقامات پولندی روز دوشنبه طرح خود برای استحکامات مرزی در امتداد ۷۰۰ کیلومتر مرز مشترک با کالیننگراد روسیه، و بلاروس را معرفی کردند .